# مطبوعاتي اعلاميه

## د رژیم د ریښو له منځه وړل یوازې د یاد نظام د جوړښت، سازمانونو، قوانینو او جرړو په له منځه وړلو سره شونې دي
## (ژباړه)

په یوه بیانیه کې د سوډان لومړي مرستیال ولسمشر او دفاع وزیر جنرال ایواد بن اوف اعلان کړه، چې موږ رژیم له منځه وړی او بشیر مو له هغه خوندي ځایه بیرته نیولی چې ور تښتېدلی و. همدارنګه خپل ځان یې د نظامي شورا د مشر او رییس په توګه وټاکه. دا هغه ارګان و چې غړي یې نه وو ټاکل شوي او وړاندې کمال ابو معروف پر دغه پوسټ ګمارل شوی و او ده د ولسمشر د لومړي مرستیال په توګه لوړه کړې وه.

ابن اوف په ۲۰۰۵م کې د حکومت لنډمهاله تشکیل وځنډاوه او د درېیو میاشتو لپاره یې بیړنی حالت اعلان کړ. دغه اعلامیه د ۲۰۱۹ میلادي کال د اپرېل پر ۱۱مه د ابن اوف له لوري اعلان شوه.

انقلابیون پوهېدلي وو چې دغه یوازې یو چل او ګمراهي وه چې د دوی غوښتنې په دوکې او فریب سره له منځه وړي. نو دوی دا څرګنده کړه چې د پوځ د مشر تر ټاکل کېدو وړاندې به غونډه کوي. انقلابیون د خپلو غوښتنو تر پوره کېدو پورې له شته جرړو سره د رژیم د له منځه وړلو لپاره د لاریونونو پر دوام ټینګار کوي.

موږ حزب التحریر ـ ولایه سوډان پر انقلابیونو غږ کوو، که غواړئ چې انقلاب له داسې غلو او فاسدو خلکو، لکه څرنګه یې چې په یمن، تانزانیا او مصر کې فساد رامنځته کاوه، پاک شي، نو باید لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:

**لومړی:** دغه رژیم له جرړو، بنسټونو او تګلارو سره یو ځای له منځه یوسئ، کوم چې زموږ مقدساتو ته سپکاوی کوي، زموږ وینې بهوي او خلک یې په نامشروع ډول بوخت کړي دي. په یو خوندي ځای کې د بشیر نیول د رژیم د ریښو له منځه وړل نه دي، بلکې په بشپړه توګه د یو ورته فاسد سیسټم تولید دی.

**دویم:** ټولیزه موخه باید دا وي چې یوازې داسې سیستم پلی شي چې د الله سبحانه وتعالی عادل قانون پلی کړي او د اسلام پر بنسټ د خلکو چارې سمبال کړي. دا یوازې د نبوت پر تګلاره د اسلام او راشده خلافت په بیا راتګ سره تر لاسه کېږي.

**دریيم:** د دې لپاره چې پر بښکېلاکګرو دولتونو او هېوادونو تکیه ونه کړو، په ځانګړي ډول د اوسني رژیم پر تولیدوونکې امریکا، نو اړتیا ده چې د ټولو بښکېلاکګرو هېوادونو له استازو سره اړیکې پرې کړو. دا ډېره مهمه ده چې پر الله سبحانه وتعالی او تر هغه وروسته د امت پر مخلصو بچیانو تکیه وکړو او له دوی سره څنګ په څنګ د راشده خلافت د تاسیس لپاره هڅې وکړو.

**څلورم:** موږ باید له داسې مخلصې رهبري سره کار وکړو چې نه په امریکا او نه هم په اروپا پورې تړلې او ټول ردوي او همداراز خپلو خلکو ته هم دروغ نه وايي، چې هغه حزب التحریر دی. یاد حزب هغه ایډیولوژیکه او سیاسي رهبري ده چې له امت سره یو ځای کار کوي او د اسلام پر بنسټ د بدلون راوړلو هوډ لري.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾**

[انفال: ۲۴]

***ژباړه:*** *اې ایمان راوړونکو! د الله او د هغه د پیغمبر بلنې ته ښه هرکلی ووایئ او ویې منئ. دا هغه څه دي چې تاسو ته ژوند درکوي. پوهېږئ چې الله سبحانه وتعالی د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حایل دی. تاسو به د الله سبحانه وتعالی لوري ته ور غونډ کړای شئ.*

**د حزب التحریر ـ ولایه سوډان رسمي ویاند**

**ابراهیم عثمان ابو خلیل**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/۴۴**

**۱۴۴۰هـ.ق د شعبان ٦مه**

**۲۰۱۹ م د اپرېل ۱۲مه**